مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۲/۲۴

# عجیبه خلک

د ۱۳۹۹ کال د میزان په ۱۲ نیټه د ننګرهار ولایت په غني خیلو ولسوالي کې د موټربم په چاودنه کې د لومړنیو معلوماتو له مخې ۱۵ تنه شهیدان او د ۵۰ په شاوخوا کې ټپیان شول، په شهیدانو کې د ښوونځي زده کوونکي هم و یوه ماشوم پخپله کتابچه کې لیکلي و((عجیبه خلک دي سرې ورته حیران پاتي...) شهید ماشوم خپله جمله بشپړه کړې نه وه ممکن په همدې وخت کې چاودنه شوې وي، په همدې جمله ډېرو شاعرانو شعرونه ولیکل ما هم لاندې کرښې ولیکلې:

## عجیبه خلک

«عـجـیـبـه خلک دي سړی ورتـه حـیـران پـاتي شي»
انسان کړي قـتـل بـیـا یي هم نـوم د انسان پاتي شي

زمـا دا لـیـک قـاتـل تـه یوسئ کـه یې زړه نـرم شي
کـیـدای شي نـور تـرې تـر یـو وختـه په امان پاتي شي

مـوږه د ویـنـو پـه بـاران کـې داسې ګـیر پـاتي یوو
لکـه مرغـۍ چې پـه تـوپـان کې پـه بـیـابان پاتي شي

راتـلـونـکي نسل تـه سحره زموږ ځواب به څه وي؟
که موږ ژوندي وو، وطن داسې ورته وران پاتي شي

۱۲/ ۷/ ۱۳۹۹
۳ اکتوبر ۲۰۲۰
آلمان – برلین
لیشته فیلده ویست
علم ګل سحر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ